
د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو
د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# مدني زده کړې

## نهم ټولگی



۱۳۹۰ هـ.ش

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د
روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# مدني زده کړې

## نهم ټولګی

۱۳۹۰
هـ . ش

ketabton.com - The Digital Library

## لیکوالان:

کاظمیه محقق
پوهنیار محمد فاروق عمرخیل
سرمؤلف محمد افضل حضرتي

## مسلکي اډیټور:

- محمد عزیز بختیاري

## د ژبې اډیټور:

- بریالی باجوړی

## دیني، سیاسي او فرهنگي کمېټه:

- مولوي عبدالصبور عربي
- دکتور محمد یوسف نیازی
- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

## د څارنې کمېټه:

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین.
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

## طرح او ډیزاین:

رحمت الله غفاري

ketabton.com - The Digital Library

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحیم

ketabton.com - The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی     دا عزت د هـــر افـــغان دی
کور د سولې کور د تورې     هر بچی یې قهرمـــان دی
دا وطن د ټولو کور دی     د بـــلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو     د تـــرکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، گوجـر دي     پـــامیـریان، نورستانیـــان
براهوي دي، قزلباش دي     هـــم ایمـــاق، هم پشه یان
دا هیـــواد به تل ځلیږي     لـــکـــه لمـــر پر شنه اسمان
په سینـــه کې د اسیـــا به     لـــکـــه زړه وي جـــاویدان
نوم د حق مو دی رهبـــر     وایو الله اکبر وایو الله اکبر

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

**گرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختگ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زیاتې شوې دي. د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه گرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توگه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، دوطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

# سرليکونه

## مدني زده کړې


**لومړي څپرکی: دولت**

**د څپرکي موخې**

دولت او د هغې دندې ۳

د افغانستان اساسي قانون سره آشنا شو ۷

سياسي نظام او خپل دولت په ښه توگه وپيژنئ ۱۰

**دويم څپرکی: ولسواکي**

**د څپرکي موخې**

ولسواکي څه شی ده؟ ۱۶

خلك څنگه کولای شی چې د دولت په اداره کې گډون ( مشارکت ) وکړي؟ ۲۰

ولسواکي په افغانستان کې ۲۲




ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

**دريم څپرکی: ملګري ملتونه**
**د څپرکي موخې**
ملګري ملتونه ۲۹
فرعي ارکان او په ملګروملتونو پورې اړوند سازمانونه ۳۳
د ملګروملتونو د کړو وړو شرحه ۳۷
**څلورم څپرکی: د بشر حقونه**
**د څپرکي موخې**
د بشر د حقونو سره آشنا کيدل ٤۳
په افغانستان کې د بشر حقونه ٤٦

ketabton.com - The Digital Library

# لومړي څپرکی

## دولت

**په دې څپرکي کې دا لاندې لوستونه شامل دي.**

- دولت او دهغه دندې.
- د افغانستان اساسي قانون سره آشنائي.
- سیاسي نظام او خپل دولت په ښه توگه وپيژنئ.





# د څپرکي موخې

**له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې د دې څپرکي ترلوستلووروسته په لاندې پوهې او مهارتونو پوه شي.**

- له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې:
- د دولت د جوړېدو تاریخچه او د ټولنو لپاره د دولت د اړتیاپه لاملونو پوه شي.
- د دولت ډولونه، زورواکي او ولسواکي دولتونه وپېژني.
- د دولت په دندو پوه شي.
- عادي قانون او اساسي قانون وپېژني او دهغوی په توپیر پوه شي.
- د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له درې ګونو قواو او د هغوی له دندو سره آشنا شي.
- د لویې جرګې په هکله او د هغې د جوړښت د دلیلونو په هکله معلومات لاس ته راوړي.

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

لومړی لوست

# دولت او د هغه دندې



## خبرې پرې وکړئ:

خپل ښوونځی په نظرکې ونیسئ او د لاندې پوښتنو په باب خبرې سره وکړئ.

١.ستاسې ښوونځی د کومو اړتیاوو د پوره کولو لپاره جوړ شوی دی؟

٢..کوم خلک ستاسې په ښوونځي کې کار کوي؟ او هر یو یې کومې دندې لري؟

٣..آیا د دې دندو تر منځه همږغي او نږدیوالی وجود لري؟

٤.دا همږغي څنګه او د چا له خوا منځ ته راځي؟

٥..که دا همږغي نه وي کومې ستونزې به منځ ته راشي؟

## ولې دولت ته اړتیا لرو؟

په ښوونځي کې مدیر، مرستیال، سرښوونکی، ښوونکي، څارونکي، چپړاسیان او زده کوونکي هر یو یې ځانګړې دنده لري. دا ټولې دندې یو له بل سره نغښتې دي او ستاسې د روزنیزو او ښوونیز واړتیا وو د ځواب لپاره همږغي کېږي. مدیر د کارکوونکو تر منځه د همږغی دنده پر غاړه لري. هر څومره چې د ښوونځي د غړو تر منځ همږغي زیاته وي په هماغه کچه، ښوونځی د خپلو دندو په سرته رسولو کې بریالی وي.

ټولنه د ښوونځي لوی انځور دی . ټولنه له کورنیو، ګروپونو او مؤسسو څخه جوړه شوې ده. دا هر یو د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره منځ ته راغلي دي. دا برخې سره لدې چې یو له بل سره جلا دي، خو بیا هم سره تړلي دي او یو د بل له مرستې پرته نشي کولی خپلې دندې سرته ورسوي.له دې کبله باید یو له بل سره همږغي ولري چې په ښه توګه خپلې دندې عملي کړي. که چیرته دا همږغي نه وي د ټولنې د افرادو ډیرې اړتیاوې بې ځوابه پاتې کیږي. له دې کبله؛ ټولنه همږغي او نظم ته اړتیا لري او دا همږغي د دولت له خوا منځ ته راځي.

د لوست د مطالبو په پاملرنې، خالي ځایونه په مناسبو عباراتوډک کړئ.

د ټولنې د افرادو اړتیا ⟵ د ډول ډول موسساتو منځ ته راتلل ⟵ د هم غږی ضرورت......

**د دو لتونو د منځته راتللو څرنګوالی**

د بشر د تاریخ په پیل کې د ځمکې په سر د انسانانو شمیر لږ او اړیکې یې ډیرې ساده وې. په تدریج سره د خپلوی ګروپونه او قبیلې جوړې شوې او د کورنی او قبیلې د غړو د اړیکو لپاره قواعدو ټاکل شول. انساني ټولنه تر ډیره وخته د خپلوی او قبیلوي اړیکو په واسطه اداره کیدله. د کورنی او قبیلې مشر د کورنی او قبیلې د غړو تر منځ اړیکې تنظیمولې او نورو غړو به د هغوي د دستورونونه اطاعت کاوه. ډیر وخت هغوي پدې برلاسي وو،چې د قبیلې تر منځ ډیرې ستونزمنې او. سختې لانجې حل وفصل کړي. دانساني ټولنې د پراخوالي په پایله کې، د هغې اداره کول هم ستونزمن شول او دخپلوی او قبیلوي قواعدو نور نشوای کولی چې د خلکو د نویو اړتیاو ځواب ووایې. د قبیلو ځینو مشرانو ډیر ځواک او امکانات برابر کړل ترڅو وکولی شي د خلکو پراخې ډلې اداره کړي. پدې ډول لومړني دولتونه جوړ شول. په ځینو سیمو کې نوي ځواکونه او سترې امپراطورئ جوړې شوې. د ټولنو له پراخیدو سره جوخت نوي دولتونه منځ ته راغلل.

## پرتله یې کړئ:

دوه ګروپونه په نظر کې ونیسئ چې هر یو یې په ځانګړې توګه پخپل ګروپ کې نظم او همږغي راوستې ده؛

۱- هغه ګروپ چې د چارو په سرته رسولو کې د ګروپ د مشر را یې او نظر ته پام لري.

۲- هغه ګروپ چې غړي یې په خپلو کې استازي ټاکي ترڅو په مشورې سره وکولای شي د کارونو په اړوند تصمیم ونیسي. دا دوې تګ لارې سره پرتله کړئ او دهغو ښیګڼه او عیبونه په ګوته کړئ.



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## د دولت ډولونه:

کولای شو دولتونه په دوه ډلو انتخابي او زور واکي وويشو، زورواکي دولت هغه دولت دی چې د يو يا څو کسانو په اراده ولاړوي. په هغه کې پاچا يا د حکومت رئيس خپل ځان د خلکو په ځان او مال واکمن بولي. په پخوا وختونو کې به ځينو مستبدو واکمنانو د خدايي دعوا هم کوله. پخواني حکومتونه اکثراً زورواکي حکومتونه وو واکمنو به خلکو ته له پاملرنې نه پرته په خپله خوښه حکومت کاوه .همدارنگه، يو ډول دولت موجود دی چې په هغه کې خلکك يو کس له خپل منځ نه ټاکي او هغه ته اجازه ورکوي چې ټولنه اداره کړي. په دې ډول دولتونو کې قوانين د خلکو د نماينده گانو له خوا وضع کېږي. دغه ډول دولت ته کولی شو انتخابي دولت ووايو. زياتره جمهوري دولتونه انتخابي دي. زياتره شاهي دولتونه استبدادي وي. ځينی هېوادونه چې شاهي نظام يې د اساسي قانون په بنسټ ولاړوي هغه ته مشروطه شاهي وايي په دې ډول حکومتونو کې د شاه د محدود واک ترځنگه د پارلمان استازي او لوړپوړي مقامات د خلکو له خوا ټاکل کېږي چې دا ډول نظام هم وگړنيز گڼل کېږي.

د اسلام په مقدس دين کې د حکومت کولو تگلاره په اسلامي بنسټونو ولاړه ده. اسلام کې مطلق حاکميت په لوی خدای ﷻ پورې اړه لري. او انسان په ځمکه باندې د لوی خدای ﷻ د خليفه په توگه شمېرل کېږي. ټول انسانان د لوی خدای ﷻ د قوانينو په وړاندې سره برابر دي. په دې ارزښمند دين کې ، حاکم د وړتيا، تقوا او د پوهې له مخې ټاکل کېږي ترڅو الهي قوانين پر الهي بنده گانو تطبيق او عملي کړي.

گران هېواد افغانستان يو اسلامي دولت دی او د هغه اساسي قانون د اسلام د مبين دين د حکمونو په رڼا کې جوړ شوی دی. چې دا مطلب د افغانستان د اسلامي جمهوريت په اساسي قانون کې په ښکاره ډول بيان شوی دی.(۱)

---

(۱) دوه يمه ماده: د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دين، د اسلام سپيڅلی دين دي.

دريمه ماده: په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپيڅلی دين د معقتداتو او احکامومخالف وي.

## دولت کومې دندې لري:

د دولت دندو د وخت په تېرېدو سره اوله یو ځایه تر بل ځایه توپیر موندلی دی. د اوسنیو دولتونو ځینې مهمې دندې په لاندې ډول دي؛

- په ټولنه کې د مختلفو موسسو تر منځه د همغږۍ د را وستلو لپاره د قوانینو او مقرراتو وضع کول.
- د قانون په وړاندې د ټولنې د ټولو خلکو د برابرئ په پام کې نیولو، د قوانینو اجرآکول.
- د کورنیو او بهرنیو تېري کونکوڅخه د وطنوالو د حقوقو ساتنه.
- له سرحدونو نه څارنه او ساتنه او د بهرنیو دښمنانو له تېري څخه مخنیوی.
- د وطنوالو لپاره د ښوونې، روغتیا او هوساینې د خدمتونو سرته رسول.

### د درس تکرار:

- دولت د مؤسساتو، کورنیو، خلکو او ټولنې تر منځ د اړیکو د نظم او همږغي لپاره جوړېږي.
- دولتونه په ټولنه کې مختلفې دندې لري چې د قانون جوړول او پلی کول او د قانون ماتولو نه مخنیوی دی.

د هغه له مهمو دندو نه شمېرل کېږي.

- دولتونه مختلف ډولونه لري لکه ولس واکي او زورواکی (استبدادي)

### پوښتنې:

۱. ولې دولت ته اړتیا لرو؟

۲. .د دولت اړیکې د ټولنې د نورو اجزآو سره وښیاست.

۳. .د دولت د ډولونو نه نوم واخلئ.

### فعالیت:

د دولت ډولونه چې په لوست کې مو ولوستل، یو له بل سره پرتله کړئ او بیان یې کړئ.

۱. تاسې کوم ډول دولت غواړئ؟

۲. زموږ دولت څه ډول دولت دئ؟ ولې؟ پایله یې په ټولګې کې خپلو دوستانو ته ووایې.



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



# د افغانستان د اساسي قانون سره آشنا شو



## خبرې پرې وکړئ:

د ښوونځي مدير يا سر ښوونکی تا سوته وايي چې کوم وخت بايد په ښوونځي کې اوسئ، څه ډول کالي بايد واغوندئ، بې له اجازې له ښوونځي نه ونه وځئ ...... دا امر او نهي چې مدير يې تاسې ته وايي څه نوم لري، څرنګه را پيداشوي دي او د ښوونځي د ادارې سره څه مرسته کوي؟

هره ټولنه، د ټولنې د نظم د ساتنې او د بې نظمی د مخنيوي لپاره امراو نهې ته اړتيا لري چې د هغې ټولنې اوسيدونکي هغه مراعات کړي.

که چېرې ښه ځير شو، زموږ د ټولنې ورځنی چارې د هغو قواعدو په بنسټ ولاړې دي چې په ټولنه کې شته او ټول بايد هغه مراعات کړي. دولتونه هم داسې مقررات ټاکي او اعلاموي چې خلک د ټولنې د نظم د ساتنې لپاره هغه رعايت کړي. هغه مقررات چې د دولت له لوري ټاکل کېږي، قانون نومېږي.

اساسي قانون د نورو قوانينو مورګڼل کېږي او د هېواد هېڅ قانون نشي کولی د هغه پر خلاف وضع شي. په حقيقت کې اساسي قانون د هر هېواد هراړخيز قانون دی چې د يو هېواد د ټولنيز ژوند وروستۍ موخه او اصلی کرښلاره بيانوي او د هېواد ادارې تګلاره او کرښلاره معلوموي.

### اساسي قانون:

په ۱۳۰۱ هجري لمريزکال کې زموږ د هېواد لومړنی اساسي قانون تصويب شو او په دې توګه، افغانستان د اساسي قانون لرونکو هېواد و په ډله کې شامل شو. د افغانستان د اسلامي جمهوريت اساسي قانون د لويې جرګې له خوا په ۱۳۸۲ لمريز کال د کابل په ښار کې تصويب شو.

د افغانستان داساسي قانون مهمې ځانګړنې په لاندې ډول دي:

**۱.اسلامي توب:**

د هېواد داساسي قانون سره سم؛ هېڅ قانون نشي کولی چې د اسلام دسپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.

**۲.وګړنيز او پرګنيز توب:**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون سره سم، په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري چې په مستقیم ډول یې پخپله، یا یې د خپلو استازو له لارې عملي کوي.

**۳.د بشري حقونو رعايت:**

زموږ په اساسي قانون کې د خلکو د کرامت او انساني حقوقو ساتنې او د خلکو د آزادیو او اساسي حقوقو تأمین ته پاملرنه شوې ده.

**۴- د ټولنيز عدالت پلي کيدل او دهر ډول تبعيض له منځه وړل:**

زموږ د هېواد په اساسي قانون کې په ټولنیز عدالت ټینګار شوی دی. او تبعیض هر ډول چې وي (قومي، ژبنی، مذهبي، جنسي) منعه شوي دی.

**د درس تکرار:**

۱.یوازې د قانون په رڼاکې ټولنه کولی شي، نظم او همرغي لاس ته راوړي.

۲.په ټولنه کې د حاکمو مقرراتوهغه برخه چې د دولت له خوا د خلکو لپاره وضع کېږي، قانون نومېږي.

۳اساسي قانون د هر هېواد یو عام قانون دی چې د یو هېواد د ټولنیز ژوند موخه او کړنلاره بیانوي.

٤.د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون په ۱۳۸۲ هجري لمریز کال کې د لویې جرګې له خوا تصویب شو.

**پوښتنې:**

۱.قانون تعریف کړئ.

۲.اساسي قانون تعریف کړئ.

۳.زموږ د اساسي قانون ځانګړنې کومې دي؟ لږ تر لږه دوه مورده یې بیان کړئ.

**فعالیت:**

د قانون د شتون ( موجودیت) ګټه مو په درس کې ولوستله، د مشرانو او ښوونکي په مرسته د قانون نورې ګټې پیداکړئ او په ټولګي کې یې ولولئ.



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



# سیاسي نظام او خپل دولت په ښه توګه وپيژنئ



## خبرې پرې وکړئ:

په تېر شويو درسونو کې مو زده کړل چې د دولت مهمه دنده د نظم راوستل د قانون جوړول اوپلي کول دي. آيا پوهېږئ قانون د دولت په کومه برخه کې وضع او په کومه برخه کې پلي کېږي؟

### زموږ دولت:

هر دولت د حکومت د ډول په پام کې نيولو سره د خپل رسمي نوم درلودونکی وي زموږ د هېواد رسمي نوم ( دافغانستان اسلامي جمهوريت) دی. دولتونه عموماً له درې برخو يا قواو څخه جوړېږي. زموږ دولت هم درې خپلواکه قوې لري:

١- تقنينيه قوه

٢- اجراييه قوه

٣- قضايه قوه

### تقنينيه قوه:

زموږ په هېواد کې د قانون جوړولو خپلواکه رکن ملي شورا ده. دهېواد ټول قوانين دهغې په وسيله تصويب کېږي. زموږ ملي شورا يا د هېواد پارلمان له دوه مجلسونو نه جوړ شوي ده: ولسي جرګه او د مشرانو جرګه.

### ولسي جرگه:

د ملي شورا دا مجلس د ټول افغانستان د خلکو له استازو نه جوړ شوی دی.دا مجلس په پنځو کلونو کې یو ځل د خلکو له خوا د آزادو، پټواومستقیمو ټول ټاکنو له لارې ټاکل کېږي. ټاکل شوي استازي د خپلو دندو د لاښه سرته رسولو لپاره پخپلوکې ( د اداري هیئت ) تر نامه لاندې یو هیئت ټاکي. د ولسي جرگې اداري هیئت د مجلس د اداره کولو دنده پر غاړه لري. د ولسي جرگې اصلي دنده د قوانینو وضع کول دي. استازي د کارد ښه پر مختګ لپاره تخصصي گروپونه جوړوي چې دې گروپونوته کمیسون وایي. هر استازي د یوه کمیسون غړیتوب لري. هر وړاندیز چې کېږي په مجلس کې د قانون ښه غوره کړې لومړي په کمیسون کې د بحث اوڅېړنې لاندې نیول کېږي او وروسته له اصلاح کیدو وروستني بحث ته وړاندې کېږي.

### مشرانو جرگه:

د مشرانو جرگې ځینې غړي د ټاکنې او ځینې غړي یې په انتصابی ډول دې مجلس ته لار مومي. دوه ثلثه استازي د ولایتي شوراگانو او د ولسوالی له شورانه دې مجلس ته لار مومي. یو ثلث نوریې د تجربه لرونکو او پوهوشخصیتونو له منځه د جمهور رئیس له لوري ټاکل کېږي. د مشرانو جرگه هم د تخصصي کمیسیونو لرونکې ده. قوانین د معمول سره سم اول په ولسي جرگه کې او بیا په مشرانو جرگه کې تصویبېږي، چې د جمهور رئیس د لاسلیک څخه وروسته د اجرا وړ گرځي. د قوانینو له تصویب نه سر بېره چې د ملي شورا له مهمو دندو نه شمېرل کېږي، د دولت د پر مختیایې کړنلارو تصویب، د دولتي بودجې تصویب، د نویو اداري واحدونو ایجادول او د بین المللي تړونونو او لوزنامو تصدیقول او له هغو څخه د افغانستان ایستل هم د ملي شورا پر غاړه دي.

### د اجرایي قوه

آیا په دې پوهیدئ چې ستاسې ښوونځی د هېواد د اجرائیه قوې یو جز شمېرل کېږي؟
آیا کولی شئ د اجرائیه قوې نورې برخې چې ستاسې په چاپیریال کې فعالې دي،نومونه یې واخلئ؟

ټولې وزارتخانې او دهغو مختلف ریاستونه د هېواد په ټولو سیمو کې د اجرایه قوې جز گڼل کېږي. د هر وزارت په سرکې یو وزیر دی چې د اجرایي قوې د رئیس یا جمهور رئیس او د ولسي جرگې په تائید ټاکل کېږي.



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## د اجرايې قوې دندې عبارت دي له:

۱. د اساسي قانون او عادي قوانينو اجرآ او د محکمو فيصلي.
۲. د دولت د مالي بودجې تنظيمول او ملي شورا ته د هغې وړاندې کول .
۳. د پرمختيايي کړنلارو طرح او تطبيق.
٤. د مالي کال په ختم کې ملي شورا ته د سرته رسيدلو چارو او د نوې کال د مالي کړنلارې ګزارش ورکول.

د اجرايه قوې په سر کې جمهور رئيس ځای لري، جمهور رئيس د دولت د رئيس په توګه په درې واړو قواو باندې واکونه لري، جمهور رئيس په هرو پنځو کلونو کې يو وار دآزادو، عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له لارې د خلکو له خوا ټاکل کېږي. جمهور رئيس ډېرې اومهمې دندې پر غاړه لري چې دلته يې څو دندو ته اشاره کېږي:

- د اساسي قانون له صحيح اجرا نه څارنه.
- د وسله والو قواو لويه سر مشري.
- د ولسي جرګې په تائيدد وزيرانو، د سترې محکمې د رئيس، لوی څارنوال او د سرې مياشتې د رئيس ټاکنه.
- د مشرانو د جرګې له غړوڅخه ديو ثلث ټاکنه.

### خبرې پرې وکړئ:

تر دې ځايه مو زده کړل چې اساسي قانون په تقنينيه قوه کې وضع او د اجرايې قوې له لارې پلی کېږي. ستاسې په نظر که څوک له قوانينو څخه سرغړونه وکړي، د دولت کومه برخه بايد د هغه څېړنه وکړي؟

### قضائيه قوه:

د درس په تېر شويو برخو کې مو زده کړل چې تقنينيه قوه قوانين وضع کوي او د هغه تطبيق کول د اجرائيه قوې پر غاړه دي. څرنګه چې په تيرو درسونو کې مو ولوستل د دولت له دندوڅخه يوه هم د خلکو د حقوقو د ضايع کيدونه مخنيوی، او همدارنګه د قانون ماتولونه مخنيوی دی.دا دنده د قضائيه قوې پر غاړه ده. قضايه قوه، د قضا په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت يو خپلو اکه رکن دی.زموږ د قضائيه قوې په ترکيب کې ستره محکمه، ابتدائيه محکمې اود استيناف محکمې شاملې دي. ستره محکمه د قضائيه قوې په سر کې ځای لری او نهه غړې لري چې د جمهور رئيس او ولسي جرګې په تائيد ټاکل کېږي.لنډه، دا چې د قضائيه قوې دنده د هغو اختلافاتو له منځه وړل دي چې د هېوادوالو تر منځ او يا د هېوادوالو او دولت تر منځ

پېښ شي. يعني هر هېوادوال کله چې پدې پوه شي چې د ده حق د کوم بل فرد او يا دولت له خوا ضايع کېږي، هغه کولی شي محکمې ته شکايت وکړي.

**لويه جرگه**:

لويه جرگه هغه مجلس دی چې يوازې په افغانستان کې جوړېږي او د ملت د ادارې تر ټولو ستر مظهر گڼل کېږي. لويه جرگه دايمي مجلس ندي او په ځانگړو شرايطو کې په موقت ډول جوړېږي. د لويې جرگې غړي عبارت دي له:

د ملي شورا غړي او د ولسواليو او ولاياتو د شوراگانو رئيسان، د قوم، علما او مخور مشران.

لويه جرگه په لاندې حالاتو کې دايرېږي.

١- د هېواد د خپلواکی، ملي حاکميت، ځمکني بشپړتيا د اړوندو چارو په باب تصميم نيول.

٢- د اساسي قانون تعديلول.

٣- د جمهور رئيس محاکمه کول.

لويه جرگه د جمهور رئيس له خوا دايرېږي، که چېرې دا جرگه د جمهور رئيس د محاکمې لپاره دايره شوې وي، نو جرگه د ولسي جرگې له خوا دايرېږي.

### د درس تکرار(١)

- زموږ د دولت رسمي نوم د افغانستان اسلامي جمهوريت دی.
- ملي شورا د هېواد تقنينيه رکن گڼل کېږي.
- اجرائيه قوه هغه قوانين چې د تقنينيه قوې له خوا وضع کېږي د حکومت په واسطه، چې د وزيرانو نه تشکيل شوېدی، اجراکوي.
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------

### پوښتنې:

١. د ملي شورا دندې وليکئ.
٢. د اجرائيه قوې دندې وليکئ.
٣. د جمهور رئيس دندې په لنډه توگه وليکئ.
٤. قضاييه قوه له څو برخو جوړه شويده؟
٥ لويه جرگه د چا له خوا دايرېږي؟

### فعاليت:

يوه له درې گونو قوو څخه وټاکئ او د مشرانو او خپل ښوونکي په مرسته د هغه د دندو په باب لس کرښې وليکئ.

(١) گرانو زده کوونکو، له دې وروسته د خپل ښوونکي په مرسته د لوست مهم ټکي وليکئ.



ketabton.com - The Digital Library

# د څپرکي لنډيز

- دولت د موسساتو، کورنيو او د ټولنې د غړو تر منځه د اړيکو، نظم او همغږۍ د راوستلو لپاره جوړيږي.
- دولتونه په ټولنه کې مختلفې دندې لري. چې د قانون وضع او پلي کول او د قانون له ماتولونه مخنيوی د هغه له مهمو دندونه دي.
- دولتونه کولای شو په دوه ډولو يعنې په ولسواکي او زور واکي دولتونو ووېشو.
- قانون په ټولنه کې د نظم او همږغي په راوستلو کې بنسټيز رول لري.
- دټولو اصولو مجموعې ته چې د دولت او خلکو دندې د يو دبل سره بيانوي، او د دولت او دولتي ارگانونو د کړنو ډول بيانوي، اساسي قانون ويل کيږي.
- د افغانستان د اسلامي جمهوريت اساسي قانون په ۱۳۸۲ هجري لمريز کال کې تصويب شو.
- زموږ د دولت رسمي نوم د افغانستان اسلامي جمهوريت دی.

دولت د درې اصلي رکنونو درلودونکی دی اجرائيه قوه، مقننه قوه او قضائيه قوه.

- لويه جرگه زموږ د هيواد د ارادی ستر مظهر گڼل کيږي




ketabton.com - The Digital Library

# دویم څپرکی

## ولسواکي (دموکراسي)

**په دې څپرکي کې له لاندې لوستونو سره آشنا کېږئ.**

- ولسواکي څه شی ده؟
- خلک څرنگه کولی شي د دولت په اداره کې گډون وکړي.
- ولسواکي په افغانستان کې



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## د څپرکي موخې

له زده کوونکونه هیله کېږي چې د څپرکي په پای کې وکولای شي:

- ولسواکي تعریف کړي.
- د مستقیمې ولسواکي او استازي ولسواکي په باب معلومات ورکړي.
- د ولسواکي مهم اصول بیان کړي.
- په دولت کې د خلکو د ګډون په ارزښت او ډول پوه شي.
- په دولت کې برخې اخیستلو او ګډون ته وهڅېږي.
- په دولت کې د خلکو د ګډون ډولونه وپېژني.
- په افغانستان کې د ولسواکي په تاریخچه(شالید) پوه شي.
- د هېواد په اساسي قانون کې دولسواکي په ارزښت خبرشي.
- په هېواد کې د ولسواکي له باندنیو اغېزو نه خبر شي.

# ولسواکي څه شی ده؟



## خبرې پرې وکړئ:

فرض کړئ چې تاسې د خپلو هم ټولګيو له منځه يو کس د خپل ټولګي د استازي په توګه ادارې ته معرفي کړئ له لاندې تګ لارونه کومه يوه غوره بولئ؛
۱- ښوونکي مو هغه معرفي کړي؟
۲- تاسې يې پخپله وټاکئ؟
د ستاسې په نظر، په سترو ګروپونو کې لکه: کسب ګر، سياسي ګروپونه، حزبونه او د ملت په ګروپ کې تصميمونه څه ډول نيول کيږي؟

په تېرو درسونو کې مو ولوستل چې ټولنې د اداره کولو لپاره دولتونوته اړتيا لري، او دولت دی چې په ټولنه کې اصلي تصمیم نيونکی دی. ځينې دولتونه خلک په تصميم نيولو کې نه شريکوي، دا ډول دولتونه عموماً په يو يا څو افرادوپورې تړلي دي خو ځينې دولتونه شته چې د تصميم نيولو اصلي واک يې د خلکو په لاس کې دی او دولت يوازې د خلکو د تصميم نيولو باصلاحيته استازی ګڼل کيږي.
کيدای شي تاسې د ولسواکي اصطلاح اوريدلې وي. آيا تاسې د دې اصطلاح د معنا په باب فکر کړی دی؟



ketabton.com - The Digital Library

دموکراسي یوه یوناني اصطلاح ده چي نن ورځ په ټولو ژبو کې تري استفاده کیږي. دا کلمه د خلکو د حکومت په معنا ده، چې په دري ژبه مردم سالاري او په پښتو ژبه کې ولسواکي ورته وايي.

ولسواکي په دې معناده چي حکومت په هره ټولنه کې د هماغې ټولنې حق دی چې باید د هېواد د مسئلو په هکله تصمیم ونیسي.

د زورواکۍ خواته د دولتونو د مخې کولو په پایله کې په پېړیو پېړیو ولسواکي د خلکو له فکر او خیال نه هېره شوه. په ورستیو پېړیو کې، نړۍ د هغو پرمختیاوو چې د بشر د حقوقو په برخه کې یې درلودل، د دې لامل وګرځیدل چې د دولتونو او خلکو پام د ولسواکي اصولو ته واړوي. ولسواکي ته دخلکو مخه کولو د شلمې پېړۍ په سر کې په بیړه پر مختګ وکړ. او د دې لامل وګرځیدل چې زیاتره دولتونه ولسواکي ومني او په خپل دولت کې یې په کار واچوي.

نن ورځ ټولو دولتونو ولسواکي د یوه مناسبې تګلارې په توګه د خپل حکومت په اداره کې منلې ده. په نړۍ کې ډېر لږ دولتونه پیداکیږي چې خپل ځان ولسواک نه بولي.



په ولسواکي کې واک په خلکو پورې اړه لري. خلک کله په نیغه خپل واک په کار اچوي چې دې ډول حکومت ته مستقیمه ولسواکي وايي. ستاسې په نظر نن ورځ دا ډول ولسواکي په نړۍ کې شته؟ په اوسنیو ټولنو کې د خلکو د جمعیت د زیاتوالی له کبله د ټولو خلکو را غونډول په یوه ځای کې عملاً امکان نه لري. همدارنګه د هېوادونو مسئلې ډېرې پیچلې شوي دي چې ټول خلک د هغه په باب د بحث او هغو ته د رسېدو وخت نه لري. له دې کبله،د یو بل ډول ولسواکي څخه کار اخیستل کېږي چې د استازي ولسواکۍ یا د غیر مستقیمې ولسواکۍ په نامه یادېږي.

په استازي ولسواکي کې، خلک د دولت ځینې چارواکي لکه، د پارلمان استازي ټاکي، او هغو ته واک ورکوي چې د هېواد د ادارې لپاره تصمیم ونیسي او قانون جوړ کړي او د دولت ځینې نورچارواکي اوکارکوونکي وټاکي. په ځینو هېوادونو کې جمهور رئیس د پارلمان د استازو له خوا ټاکل کېږي. د خلکو ټاکل شوي استازي او جمهور رئیس د خلکو په وړاندې مسئوولیت لري.

**پرتله يې کړئ:**

د مستقیمې ولسواکۍ او استازي ولسواکۍ په باب سره خبرې وکړئ او لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

- کوم ګډ اصول پدې دواړو ولسواکیو کې وجود لري؟

ولسواکي داسې اصول لري چې نن ورځ د بشري ارزښتونو تر نامه لاندې د ډېرو ټولنو د منلو وړګرځیدلي دي او هر کله چې دا اصول د دولت په تشکیل کې رعایت شي هغه ته ولسواک دولت وايي. د ولسواکۍ ډېر مهم اصول عبارت دي له :

۱. د خلکو واکمني.
۲. د بشر د بنسټیزو حقوقو ضمانت.
۳. خپلواکه ټاکنې.
٤. د قانون په وړاندې برابري.
٥. د بیان آزادي.
٦. د ډیرکیو حکومت د لږکیو د حقوقو په ساتنې سره.
۷. د دولتي چارواکو ځواب ورکول د خلکو په وړاندې.



ketabton.com - The Digital Library

نن ورځ هم ولسواکي په ټولو هېوادونو کې يو شان نده، او هر هېواد د خپلو اجتماعي، اقتصادي او فرهنگي شرايطو سره سم د دولت په اداره او تشکيل کې ترې گټه اخلي. د درس مطلب ته په پاملرنې سره، آيا زموږ دولت، ولسواک دولت گڼل کېږي؟ خپل دليلونه ووائي.

## د لوست تکرار:

- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------

## پوښتنې:

١. دموکراسي ته په پښتو او دري ژبوکې څه وايي؟
٢. مستقيمه او غير مستقيمه ولسواکي څه توپير لري؟
٣. آيا نن ورځ کولای شو د مستقيمې ولسواکۍ له لارې نه د يو هېواد په اداره کې استفاده وکړو؟ توضيح ورکړئ.
٤. د ولسواکي له مهمو اصولونه د څلورو اصولو نومونه واخلئ.

## فعاليت:

په وروستيو کلونو کې د ځوانانو د پارلمان طرح په ازمايشي توگه اجرا شوېده. پدې باب تحقيق (څېړنه) وکړئ چې دا پارلمان په کومه موخه جوړشوی دی. او د غړيتوب شرايط يې کوم دي.



ketabton.com - The Digital Library

# خلک څنګه کولئ شي چې د دولت په اداره کې ګډون (مشارکت) وکړي؟





## خبرې پرې وکړئ:

څرنګه چې په تېر شوي درس کې مو ولوستل چې د خلکو رایه د ولسواکۍ له مهمو اصلونو څخه شمېرل کېږي. ستاسي په نظر خلک څرنګه کولی شي خپله واکمني عملي کړي او په سیاسي تصمیم نیولو کې ګډون وکړي؟

په تېرو لوستونو کې مو ولوستل چې خلک په ولسواکو دولتونو کې کولای شي په مستقیمه او یا داستازو له لارې د دولت په اداره کې ګډون وکړي. نو ویلی شو چې: ولسواک دولت د هېواد په سیاسي تصمیم نیولو کې، د خلکو د ګډون په بنسټ ولاړ دی. هر څومره چې د خلکو د ګډون کچه لوړه وي په هماغه اندازه د ولسواکۍ ورانګې په هغه دولت کې ډېرې وي. په سیاسي چاروکې د خلکو دګډون لپاره مختلفې لارې شته، چې د رای ورکولو او په مظاهروکې دګډون نه نیولې د دولتي لوړو پوستونو تر ولکې پورې شامل دي. خو خلک په سیاسي چاروکې یوشان ګډون نه کوي.یو شمېر خلک یوازې په ټاکنو کې ګډون کوي او له نوماندو څخه یوه کس ته خپله رایه ورکوي. او یو شمېر د سیاسي حزب غړي شي او د خپل حزب د موخو د پر مخ بیولو لپاره فعالیت کوي. ځینې نور بیا له دې نه په لوړه کچه د خپل ځان په نوماندولوسره کوښښ کوي،



ketabton.com - The Digital Library

دولتي پوستونه لاس ته راوړي، چې د دولتي کړنلارواو تصميم نيولو او دهغو سرته رسولو ته لاره ومومي. يو شمېر نور چې د ګډون په لوړه کچه کې دي هغه کسان دي چې په ټاکنو کې بريالي شويدي .اوپه عمل کې يې دولتي پوستونه لاس ته راوړي دي. د ښه وضاحت لپاره لانديني شکل ته پاملرنه وکړي

دولتي پست خورا ډېر — نوماندولو — په حزب کې غړيتوب — رايه ورکول خورا لږ

د دې لپاره چې سياسي ګډون (مشارکت) ګټوروي، ټاکنې بايد خپلواکه، عمومي، پټې او په نيغ (مستقيم) ډول وشي ترڅو خلک وکولی شي چې په خپله اراده او خوښه هغه څوک چې غواړي يې وټاکي او نور څوک خپله اراده پر هغوی ونه تپي، دسياسي ګډون يو بل ډول د لوړ پوړو د اعمالو د کنترول او څارنې په ښه سرته رسېږي. څارنه هم له بېلو بېلو لارو سرته رسيږي د دولت په کړنو د څارنې له ډولونو نه يې ځينې په دې ډول دي:

۱-نيوکې؛ ډله ايېزه مظاهرې او اعتراضونه؛

۲- د خلکو د استازو شتون د دولت په مختلفو برخو کې هم د خلکو له خوا د دولت د کنټرول يو ډول شمېرل کېږي؛

۳- رسنی هم د لوړ پوړو د کړنو په نيوکو کې خورا ستره دنده لري.

## د لوست تکرار:

- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

## پوښتنې:

۱. دخلکو ګډون په دولت کې د ولسواکي سره څه تړاو لري؟

۲. د خلکو د ګډون لپاره کومې لارې وجود لري؟

۳. د خلکو د ګډون کچه په سياست کې بيان کړې.

٤. خلك له کومو لاروکولی شي د لوړ پوړو کړنې وڅاري؟

## فعاليت:

دوه کسان چې تاسې يې پېژنئ، په نظر کې ونيسي چې يو يې سياسي ګډون ډېر لري او بل يې لږ. د يو شکل پر مخ د دواړو موقعيتونه په نښه کړئ او د دې موقعيتونو په باب خپل دلايل بيان کړئ.



ketabton.com - The Digital Library

# ولسواکي په افغانستان کې



## خبرې پرې وکړئ:

په تېر شویو درسونو کې مود ولسواکي اصول او په ولسواک دولتونو کې د خلکو ونډې ولولوستلې. د تېر شوي درس د مطالبو په نظر کې نیولو سره، لاندنیو پوښتنو ته ځواب ووایئ. ستاسې په نظرولې د افغانستان دولت ته ولسواک دولت ویلي شو؟په دې هکله خپل معلومات څرګند کړئ.

نن ورځ ولسواکي په نړۍ کې د حکومت کولو په اړه د بشر د یوې تجربې په توګه پېژندل کېږي. ولسواک حکومتونه د بشر په تاریخ کې زیات عمر نه لري. او د دې ډول حکومتونو مخینه په افغانستان کې ډېره لږه ده. زموږ په هېواد کې د خپلواکۍ او د ولسواکۍ د لاس ته راوړلو لپاره، مبارزینو او خپلواکي غوښتونکو په کلونو کلونو مبارزه وکړه او په دې لاره کې یې ډېردرانده زیانونه وزغمل چې په پایله کې یې د خپلواکۍ غوښتونکو د هڅو او ټولنیزو فشارونو له امله د ولسواکۍځینې ارزښتونه په اساسي قانون کې درج شول او پارلمان چې د



ketabton.com - The Digital Library

ولسواکي بنسټ دی، جوړشو.

کله چې دا هيله پيدا شوه چې هېواد د ولسواک کېدو په خوا روان دی،جگړې پيل شوې چې د نورو شيانو په شان يې په هېواد کې د ولسواکۍ جرړې او بنسټ هم له منځه يوړه او په هېواد کې يې د ولسواکۍ دوام له ستونزو سره مخ کړ.د بن د کنفرانس نه وروسته په هېواد کې د اوسني حکومت جوړېدو ته لاره هواره شوه. په نوي دولت کې کيدای شي چې ولسواکي له دوو اړخونو وکتل شي:

## دموکراسي په اساسي قانون کې:

د هېواد نوی اساسي قانون چې په ۱۳۸۲ کال کې تصويب شو د اسلامي او ولسواکۍ د ارزښتونو پر بنسټ ولاړ دی. څرنگه چې ولسواکي په اساسي قانون کې شتون لري، خو په ځينو موادوکې په ښکاره ډول پرې رڼا اچول شويده. داساسي قانون هغه مادې چې د ولسواکي ښکارندوي دي په لاندې ډول دي.

۱. جمهور رئيس د خلکو او ولسي جرگې په وړاندې مسئوول دی.(۱)

۲.ټاکل او ټاکل کيدل د هر افغان تبعه حق دی.(۲)

۳.د ټولنواو گوندونو جوړول د هېواد اتباعوته مجاز دي.(۳)

٤.د مظاهرو کول د خلکو له خوا مجاز گڼل شويدي.(٤)

آزادي، د وطنوالو تر منځ د تبعيض نشتوالی، د قانون په وړاندې برابري او دبيان آزادي د ولسواکي د اصولو له جملې څخه دي چې د اساسي قانون په موادو کې يې په ښکاره ډول تضمين شوي دي.

### غور پرې وکړئ:

د ولسواکۍ د ارزښتونو او اصولو سره ستاسې د آشنايي په پام کې نيولو سره لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

۱ولې د افغانستان اساسي قانون ته ولسواک قانون ويلی شو؟ مثالونه يې راوړئ؟

۲.د ولسواکۍ هغه ارزښتونه چې په اساسي قانون کې راغلي دي، تر کومې کچې پلي شوي دي؟

---

۱- د اساسي قانون نه شپېتمه ماده.

۲- د اساسي قانون څلوردېرشمه ماده.

۳- د اساسي قانون پنځه دېرشمه ماده.

٤- د اساسي قانون شپږدېرشمه ماده.



ketabton.com - The Digital Library

## د ولسواکۍ عملي آغېزې:

### د جمهوري رياست ټاکنې:

د جمهوري رياست ټاکنې او د ولسي جرگې د استازو ټاکنې د خلکو د واک د پلی کېدو په درشل کې سرته ورسيدې. د جمهوري رياست په ټاکنو کې د هېواد په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره زموږ خلکو وکولی شول چې په خپلو آزادو رايو سره د هېواد اجرائيوي لوړ مقام وټاکي. پدې ټاکنو کې د هېواد له ټولو قومونو څخه خلکو وکولی شول چې د لوړ مقام د لاس ته راوړلو لپاره خپل ځان ونوموي او يو د بل سره په سيالۍ لاس پورې کړي. دا ټاکنې په خپلواکه، عمومي، مستقيم او پټ ډول سرته ورسيدې. د ولسي جرگې پارلماني ټاکنې او ولايتي شوراگانو ټاکنې هم د جمهوري رياست له ټاکنونه لږه موده وروسته سرته ورسيدې. په دې ټاکنو کې هم نوماندو اوهم د راى ورکولو لپاره کوم محدوديت موجودنه وو. په همدې دليل زموږ پارلمان د ټولو قومونو له استازو څخه چې مختلف سياسي فکرونه يې درلودل، وکولی شول په کافي اندازه رايې لاس ته راوړي، جوړ شوی دی. د ولايتي شوراگانو انتخابات هم په همدې ډول سرته ورسيدل.

### مدني آزادي:

د ولسواکي له اصولو څخه يوه هم مدني آزادي ده. د مذهب آزادي، د گوندونو جوړولو آزادي، د مظاهرو او سوله ييزو اعتراضاتو آزادي، د ډله ييزو رسنيو له لارې د بيان آزادي، په کوم ډول چې په اساسي قانون کې تضمين شوي دي په عمل کې هم خلك له هغو نه برخمن دي.

ولسواکي زموږ په هېواد کې نوي او ځوانه ده. له دې کبله، د دولت او ملت دا دنده ده چې له دې نيالگي څخه ساتنه وکړي تر څو دښمنان ونشي کولی هغې ته زيان ورسوي. د نا امني پراخيدل په هېواد کې ولسواکي او ولسواکو ارزښتونو ته يو ستر خطر اوگواښ دی.له دې امله، موږ ټول بايد هڅه وکړو چې نظم او امنيت په هېواد کې وساتواو هغه ته پراختيا ورکړو.



ketabton.com - The Digital Library

## د لوست تکرار:

- ---------------------------------------------
- ---------------------------------------------
- ---------------------------------------------
- ---------------------------------------------
- ---------------------------------------------
- ---------------------------------------------

## پوښتنې:

۱.ملي واکمني ( ملي حاکمیت) په اساسي قانون کې څه ډول طرح شوی دی او د ولسواکۍ سره څه اړیکې لري؟

۲ .زموږ په اساسي قانون کې د ولسواکۍ کوم اصول څرګند شوي دي؟

۳.ستاسې په نظر، آیا د جمهوري ریاست او ولسي جرګې ټاکنې په افغانستان کې په ولسواکه توګه سرته ورسیدې؟ دلیل یې راوړئ.

## فعالیت:

څو کاله وروسته تاسې هم کولئ شئ چې په ټاکنو کې ګډون وکړئ د خپلو نظر وړ نوماندوته به رایه واچوئ. هغه څوک چې تاسې یې د پارلمان د استازي او یا جمهور رئیس په توګه ټاکئ باید کومې ځانګړنې ولري؟ ستاسې د نظر وړ د ځانګړنو درلودل به څه ګټه ولري؟ په ټولګي کې یې خپلو دوستانو ته بیان کړئ.



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## د څپرکي لنډيز

ولسواکي د خلکو د حکومت معنا لري چې په دري ژبه کې (مردم سالاری) او په پښتو ژبه کې د ولسواکي په نوم يادېږي.

ولسواکي په دې معنا ده چې، حکومت د خلکو حق دی او همدا خلک دي چې بايد د هېواد د مسائلو په باب تصميم ونيسي.

واک (حاکميت) په دوه ډولونو عملي کېږي.

۱- په مستقيمه توگه، چې خلک پر يو ځای را ټول شي، او د خپل هېواد د ادارې لپاره تصميم ونيسي؛

۲- د استازوله لارې چې د خپلو استازو د ټاکنې له لارې خپل واک عملي کوي. په او سنيو ټولنو کې ولسواکي د استازو له لارې دود ده؛ ځکه د خلکو د ټولنې د زيات شمېر له کبله د خلکو را ټولول په يو ځای کې په عملي توگه امکان نه لري.

او د استازوپه ولسواکي کې، خلک د دولت ځينې مهم کارونه لکه: جمهور رئيس او د پارلمان استاذي ټاکي او هغوته دا واک ورکوي ترڅو د خلکو له خوا تصميم ونيسي.

هر څومره چې دخلکو گډون په سياسي تصميم نيولو کې زيات وي، دولت لا زيات ولسواک برېښي.

د خلکو گډون په حکومت کې کيدئ شي په ټاکنو کې گډون خپل د نظر وړ نوماند ته د رای ورکولو نه نيولي، د لوړو دولتي پوستونو تر نيولو، په معنا وي.

د رسنيو له خوا د دولت د لوړ پوړو په کارونو نظارت، کيدای شي د خلکو د گډون يوه برخه وبلل شي.

ولسواکي د افغانستان په اساسي قانون کې اوچت ځای لري. همدارنگه، ددې قانون په زياتو مادو کې صراحت لري.

د جمهوري رياست او پارلمان ټاکنې او همدارنگه د خصوصي آزادو رسنيو موجوديت په افغانستان کې د ولسواکي ځرگندوي دي.

د ولسواک حکومت مخينه په نړۍ او همدارنگه په افغانستان کې ډېره زياته نده.

# دریم څپرکی

## ملګري ملتونه

**په دې څپرکي کې لاندې درسونه لولو.**

- ملګري ملتونه.
- فرعي ارکان او په ملګروملتونو پورې اړوند سازمانونه.
- د ملګروملتونو د کړو وړو شرحه.



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## د څپرکي موخې

**له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې د دې څپرکي په پای کې وکولای شي:**

- د ملګروملتونو د جوړېدو دلیلونه وویلي شي.
- د ملګروملتونو اصلی ارکان او دهغو د هر یوه دنده بیان کړي.
- د فرعي ارکانو او په ملګروملتونو پورې د تړلو سازمانونو تر منځ توپیرونه وپېژني.
- د یونسکو، یونیسف او د کډوالو په چاروکې د ملګروملتونو د کمیشنرۍ په باره کې معلومات ورکړی شي.
- خپلو موخو ته د رسیدو په لاره کې د ملګروملتونو بریالیتوبونه او ماتې تر یوې اندازې پورې و پېژني.
- په افغانستان کې د ملګروملتونو له فعالیتونو سره آشنا شي.

ketabton.com - The Digital Library



# ملګري ملتونه



## خبرې پرې وکړئ:

په ډېرو پخوا زمانو کې خلکو داسې فکر کاوه چې د جګړې څخه خلاصون نشته. همدغه وجه ده چې د بشريت تاريخ له هغو خونړيو جګړو څخه ډک دی چې انسانانو په خپلو منځو کې کړې دي. ستاسې له نظره:

• آيا نن ورځ کولای شو چې د جګړو د پېښېدو څخه په نړۍ واله کچه مخنيوی وکړو؟ څرنګه؟

د شلمې پېړۍ په لومړيو وختونو کې دهغې زمانې د اروپايي څواکونو تر منځ جګړه ونښته چې څلور کاله يې دوام وکړ او په ميليونونو خلک پکې ووژل شول. د شلو کالو شاوخوا وروسته، بله جګړه بيا د اروپا څخه پيل شوه چې کلونه، کلونه يې دوام وکړ. په دې جګړه کې هم په ميليونونو خلک ووژل شول. د شلو کالو په شاوخوا کې د دوونړيوالو جګړو پېښېدل، د دې لامل شول چې سوله غوښتونکي کسان د جګړې د مخنيوي په هکله د حل د لارې په فکر کې شي.د لومړۍ نړيوالې جګړې په پای کې د ملتونو د ټولنې (جامعه ملل) په نامه يو سازمان د جګړو د مخنيوي په خاطر جوړ شو. خو دغه سازمان هم ونه کړای شول چې د جګړو د مخنيوي په لاره کې کوم برياليتوب تر لاسه کړي. له يوې خوا هغه لويې دردونکې

پېښې او نه جبرانېدونکي زيانونه چې د دويمې نړيوالې جګړې څخه پاتې شوي وو او له بله پلوه د زياتو ورانونکو نظامي وسلو جوړول لکه اتمي وسلې، د دې لامل شول چې خلک او دهغه وخت دولتونه د سولې ساتنې اړتيا، له پخوا څخه زياته احساس کړي. په پاى کې د زياتو هڅو وروسته په۱۳۲٤ لمريز کال کې د (۵۱) غړو له خوا د ملګروملتونو د منشور په امضا کولو سره، ملګري ملتونه په رسمي توګه پرانيستل شو. نور هېواد ونه کرار،کرار د ملګروملتونو غړي شول. اوسمهال ۱۹۱ هېوادونه په ملګروملتونو کې غړيتوب لري. زموږ هېواد افغانستان په ۱۳۲۵ لمريز کال کې د ملګروملتونو غړيتوب تر لاسه کړ. د ملګروملتونو ماڼۍ د امريکا د متحدو ايالتونو د نيويارک په ښار کې ده. په ملګروملتونو کې شپږ ژبې رسميت لري چې له : انګليسي، فرانسوي، اسپانوي، چينايي، روسي او عربي څخه عبارت دي.

**خبرې پرې وکړئ:**

تاسې زده کړل چې ملګري ملتونه د سولې او امنيت د ساتلو په خاطر، جوړشويدي. ستاسې له نظره، ملګري ملتونه کوم کارونه بايد سرته ورسوي ترڅو وکړاى شي چې سوله او امنيت په نړيواله کچه وساتي؟

## د ملګروملتونو( اركان)

ملګروملتونو خپلو موخوته د رسيدو لپاره پخپل منځ کې دکار وېش ته اړتيا درلوده. هغه عمده ستنې (اركان) چې د ملګروملتونو منشور د دې سازمان لپاره طرحه کړي دي عبارت دي له:

**عمومي ټولنه (مجمع عمومي)** عمومي ټولنه د ملګروملتونو د ټولو غړو مجموعې ته ويل کېږي، چې هر غړي يې په عمومي غونډو کې د يوې رايې حق لري. د نورو غړو منل، د پخوانيو غړو ځنډول ( تعليق) او يا ليرې کول او د امنيت شورا د غير دايمي غړو ټاکنه، د عمومي ټولنې دندې دي.



ketabton.com - The Digital Library



**د امنیت شورا**:

د امنیت شورا له پنځلسو غړو څخه جوړه شوي ده چې پنځه غړي يې دايمي او لس نور غړي يې غير دايمي دي. دايمي غړي، د امريكا، روسيې انگلستان، فرانسې او چين له هېوادونو څخه عبارت دي. غير دايمي غړي په هر دوو كالو كې يوځل د عمومي ټولنې له خوا ټاكل كېږي. د امنيت د شورا ټول تصميمونه بايد د دې شورا د ټولو دايمي غړو په موافقې سره ونيول شي. د يوه دايمي غړي مخالفت د يوه تصميم داجرا كولو لپاره مانع او خنډګرځي. دغه مخالفت ته چې ديوه تصميم د اجرا مانع ګرځي په اصطلاح كې د هغه تصميم ويتوكول وايي. د امنيت د شورا دنده د سولې ساتل دي چې په لاندې دوو طريقو سرته رسېږي.

۱- په سوله ايز ډول د اختلافونو حل وفصل كول.

۲- سولې ته دګواښ او يا تېري په وخت كې عملي اقدام كول.

**اقتصادي، اجتماعي شورا**: دا شورا د غړو هېوادونو د اقتصادي او ټولنيزې ودې لپاره زيارباسي.

د عدالت نړيواله محكمه: كه چېرې د هېوادونو تر منځ اختلافات موجودوي نو كولای شي چې دغې محكمې ته چې مركز يې د هالند د هېواد د (لاهه) په ښار كې دی، شكايت وكړي او دغور غوښتنه وكړي.



**دارالانشا**[٤]: دارالانشاء له یو تن سرمنشي او یو شمېر کارمندانو څخه جوړه شوي ده. د ملگروملتونو سرمنشي د سازمان د ټولو چارونظم او ترتیب برابروي او همغږي کوي یې او دعمومي ټولنې او امنیت شورا مصوبې نېغ په نېغه اجرا کوي او یا دهغود اجرا نظارت کوي. همدارنگه سرمنشي کولاي شي چې دامنیت د شورا پام هرې هغې موضوع ته چې نړیواله سوله او امنیت د خطرسره مخامخ کوي، را واړوي.

**د لوست تکرار:**

- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------

**پوښتنې:**

١. د ملگروملتونود جوړېدو موخې ولیکئ.
٢. د عمومي ټولنې دنده څه شی ده؟
٣. د امنیت شورا کومې دندې لري؟ ویې وایئ.
٤. د ملگروملتونو داصلی ستنو(ارکان) نومونه واخلئ او د ملگروملتونو د سرمنشي دندې ولیکئ.

**فعالیت:**

شعر په ځیر سره ولولئ او لاندې پوښتنې ته ځواب ورکړئ؟

بنی آدم اعضـــاي یـکدیگرنــد * که در آفرینش زیک گوهراند.
چوعضـوي به درد آوردروزگــار * دیگر عضــوها را نماند قــرار.

د سعدي د دغه شعر او د ملگروملتونو د دندو تر منځ څه اړیکه موجوده ده؟ ویې وایئ.



ketabton.com - The Digital Library

# فرعي ارکان او د ملګروملتونو اړوند سازمانونه

## خبرې پرې وکړئ:

انځورونوته په ځير سره وګورئ او پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

۱. دغه آرمانونه په کومو موسسو پورې اړه لري؟

۲. آيا د دغو مؤسسو خدمتونه مو چيرې ليدلي دي؟ که ليدلي موو ي نو تشريح يې کړئ.

په تېر لوست کې د ملګروملتونو د جوړيدو په دليلونو باندې پوه شو. همدارنګه د هغه اصلی دندې او ارکان موو پيژندل. په دې لوست کې د ملګروملتونو اړوند فرعي ارکانو او تخصصي موسسو سره آشنا کيږو.

(۱) آرم ديو دولت، اداري يا موسسې ځانګړې نښه چې د کاغذ پرمخ يا کوم بل شي باندې يې وکاږي.

د ملګروملتونو جوړېدل د نړۍ د هېوادونو ترمنځ د سترو او پراخو همکاریو او مرستو پیل وګرځېد. د دغو مرستو زیاته برخه هغه مرستې دي چې د ملګروملتونو په منشور کې یې وړاندو ینه نه وه شوې. له دې کبله، د ملګروملتونو فرعي ستنې یا ارکان فعال شول ترڅو وکولای شي چې نړیوالو مرستو ته په ټولو برخو کې پراختیا ورکړي. ځینو خپلواکو تخصصي سازمانونو چې په نړیواله کچه یې فعالیت کاوه د ملګروملتونو سره یې ځینې قراردادونه لاسلیک کړل ترڅو خپل پروګرامونه د ملګروملتونو سره په همغږۍ کې، عملي کړای شي. همدا وجه ده چې هغوي ته د ملګروملتونو اړوند تخصصي سازمانونه وایي. په عمومي ډول ، د ملګروملتونو اړوند سازمانونه په دریو کاري ډلو وېشل کېږي.

۱.د کرنیزو، صنعتي، پولي بانکي( اقتصادي) چارو د پراختیا موسسې؛

۲.د خدمتونو او اړیکو نیولو موسسې؛

۳.ټولنیزې، فرهنګي او روغتیا یې موسسې؛

دغه موسسې او سازمانونه د کرنې او نړیوالو اړیکو د پراختیا په لاره کې او په نړیواله کچه د ژوندانه د ټولنیزې، فرهنګي او روغتیایي سطحې د لوړتیا لپاره فعالیت کوي. پدې ځای کې دیادوشو یو سازمانونو څخه د ځینو مهمو سره یې آشنا یې پیدا کوو.

**یونسکو**:

ستاسې له نظره څرنګه کولای شو چې د و امداره سوله منځته راوړو؟

د ملګروملتونو اړوند د تخصصی سازمانونو څخه یو یې هم د زده کړې ، علمي او فرهنګي چارو سازمان یا( یونسکو(UNESCO) دئ. تر دې دمخه مو زده کړل چې ملګري ملتونه په نړۍ کې د سولې د منځ ته راتلو د انګېزې له مخې ، منځته راغلل. له هغه ځایه چې ملګري ملتونه یو سیاسي سازمان دی او له دولتونو څخه استازیتوب کوي، په یوازې توګه نشي کولای چې په نړۍ کې د جګړې لا نجه حل کړي. د یونسکو بنسټ ایښودونکو دا عقیده درلوده چې جګړه لومړی د انسان په ذهن کې را پیدا کېږي. له دې کبله د سمې زده کړې او روزنې په ترڅ کې باید د بشر په فکر کې د سوله غوښتنې حس هم را پیدا او پیا وړې کړو. نو علم او پوهې او د انسان روزنې ته په زیاته پاملرنه سره کولای شو چې داسې انسانان وروزو چې جګړه د اختلافاتو د حل او له منځه وړلو یوازینې لارونه ګڼي. له همدې کبله د ملګروملتونو د زده کړې، علمي او فرهنګي سازمان یعنې یونسکو، منځته راغلی دی.

**خبرې پرې وکړئ**:

آیا تراوسه پورې مو دهغو مختلفو ستونزو په هکله چې تاسې ور سره مخامخ یاست، فکر کړی دی؟ د هغې بېلګې او مثالونه وښیاست. دهغو دکموالي لپاره کومې د حل لارې ستاسې په نظر درځي؟ د هغو په هکله په ټولګي کې سره و غږېږئ.



ketabton.com - The Digital Library

**یونیسف**:
د ملګروملتونو د فرعي ارکانو له جملې څخه یو یې د ملګروملتونو د ماشومانو صندوق دی چې په لنډ ډول ( یونیسف) ( UNICEF ) ورته وایي. د یونیسف موخه د نړۍ دټولو ماشومانو لپاره د امن، سلامتیا، مناسبو خوړو او ګټورې ښوونې او روزنې سره مرسته کول دي. همدارنګه یونیسف د ښځو په وړاندې د هر ډول توپیر کولو( تبعیض) له منځه وړلو څخه ملاتړ اود نجونو په زده کړه ټینګار کوي. یونیسف هڅه کوي ترڅو هغه خنډونه چې د ماشومانو امنیت او سوکالي ګواښوي، کم کړي او د ماشومانو سره دهغوي حقوقوته د رسیدو په لاره کې چې د پوهې،روغتیا او مناسبې ښوونې او رزونې څخه عبارت دي، مرسته وکړي.

## د کډوالو په چارو کې د ملګروملتونو عالي کمیشنري:

په هر هېواد کې د جګړې خورا مهمې او ډېرې زیان اړوونکې پایلې په جګړه ځپلې سیمه کې د زیات شمېر اوسیدونکو بې کوره کېدل او بې ځایه کیدل دي. په همدې دلیل سره،ملګروملتونو د خپلو فعالیتونو یوه برخه د بې ځایه شویو اوکډوالو د چارو د ترسره کیدو لپاره ګمارلې ده. د کډوالو په چارو کې د ملګروملتونو کمیشنري UNHCR د ملګروملتونو فرعي رکن دی چې په دې برخه کې فعالیت کوي. د دې کمیشنرۍ تر ټولو ستره دنده دکډوالو څخه دنړیوال ملاتړ تامینول، د دوی د لومړنیو اړتیاوو د تامینیدو سره مرسته کول او د دوی د اساسي حقوقو د تربښولاندې کیدو څخه مخنیوی دی.



ketabton.com - The Digital Library

### د لوست تکرار:

- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

### پوښتنې:

۱. د ملگروملتونو تخصصي سازمانونه د کومو موخو د سرته رسولو لپاره منځته راغلي دي؟

۲. د ملگروملتونو اړوند د تخصصي سازمانونو فعالیتونه په څو برخو وېشل کېږي؟

۳. د یونسکو دندې بیان کړئ.

٤. یونیسف څه ډول سازمان دی؟ توضیح یې کړئ.

۵. د ملگروملتونو د کډوالو د عالي کمیشنري مرستې څه ډول خلکوته رسېږي؟

### فعالیت:

په دې باره کې چې د ملگروملتونو اړوند کوم سازمان ستاسې د اوسیدو په ځای کې فعالیت کوي، معلومات ترلاسه کړئ؛ بیا د هغو د فعالیت په هکله یو راپور ترتیب کړئ او په ټولگي کې یې ولولئ.

ketabton.com - The Digital Library



# د ملګروملتونو د کړو وړو شرحه[۱]






**خبرې پرې وکړئ:**

په تېر لوست کې مو ولوستل چې ملګرې ملتونه د ځانګړو موخو د تر سره کولو لپاره جوړ شوي دي. ستاسې په نظر:

۱. ملګروملتونو هغه موخې څو مره تر سره کړې دي؟

۲. په افغانستان کې څومره بریالي شوي دي؟

پوهېږو چې ملګرې ملتونه د دویمې نړیوالې جګړې د پای ته رسیدو نه وروسته، نړیوالې سولې او امنیت ته د انسانانو د جدي اړتیا او غوښتنې له کبله جوړ شول. په تېرو لوستونو کې د ملګروملتونو د موخو، پروګرامونو، اصلي او فرعي ستنو ( ارکان) او تخصصي موسسو سره بلدشو. په دې لوست کې د ملګروملتونو کارنامه په لاندې درو حوزو (سیمو ،ساحو) کې تر څېړنې لاندې نیسو.

(۱) د تاریخ یا د چا د حال د شر حې په معنا، یا هغه پاڼه چې په هغو کې د کوم کارګر او یا زده کوونکي د زده کړې جریان لیکل کېږي. د لته د ملګروملتونو کړه وړه چې په کومو برخو کې فعالیت کوي، بیانوي،یا د ګاري کار،هغه لوی کار چې یا د پاتې شي.

۱. د جګړې مخنیوی او دسولې منځته راوړل.
۲. د کار ډېدا کېدو او د غربيې او فقر سره د مبارزې کولو له لارې د ژوندانه د سطحې لوړول.
۳. د هېوادونوتر منځ په سوله ییزه توګه د اختلافونو د حل کولو سره مرسته کول.

## د جګړې مخنیوې او د سولې منځته راوړل.

ملګروملتونو په ډېرو ځایونو کې د جګړې د مخنیوې او سولې د منځته راتلو لپاره خپل اقدامات کړي دي. ځینې مهمترین اقدامات چې څو- څو ځله د ملګروملتونو له خوا عملي شوي دي عبارت دی له:

۱. د احتمالي جګړې د مخنیوې لپاره د ملګروملتونو د سوله ساتونکو ځواکونو ځاې په ځاى کول.
۲. په جګړه کې د ښکېلو خوا وو ځخه د وسلو را غونډول.
۳. د ملګروملتونو د سرمنشی په منځګړيتوب په جګړه کې د ښکېل غاړو خبرو اتروته هڅول.

د دې ټولو اقداماتو سره، سره ملګري ملتونه په ځینو ځایونو کې د خپلو موخو په تر سره کولو، نه دي بريالي شوي ، په همدې دليل، موږ د ملګروملتونو د جوړېدو څخه تر اوسه پورې د نړۍ په ډېرو ځایونو کې زیاتې جګړې په سترګوولیدې. د بېلګې په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې زموږ په هېواد کې د جګړې، زموږ په ګاونډکې د عراق اوایران جګړه، په ختیځه اروپا کې د بوسنی هرزګوینا او یو ګوسلاو یا بحرانونه یاد ولی شو.

د ملګروملتونو د سولې د منځته راوړو په لاره کې ستره ناکامي، د فلسطین مسئاله ده چې دوی ونه کړای شول د فلسطین خلکوته د هغوی حقوق بیرته ورکړي او همدارنګه د هغوی خاوره تر اوسه پورې د اسرائيلو تر ولکې او اشغال لاندې ده.

## د کار پیدا کول او د غربيې سره مبارزه:

په ټوله نړۍ، په ځانګړې توګه په خوارو هېوادونو کې، د ژوندانه د سطحې لوړول، دکارپيداکول او د غربيې سره مبارزه کول، د ملګروملتونو نورې موخې دي. د ملګروملتونو هغه اصلی رکن چې د دغه ډول پروګرامونو د سمبالولو دنده یې په غاړه ده، د اقتصادي او اجتماعي شورا څخه عبارت دی.همدارنګه نړیوال بانک، د خوړواو کرنې نړیوال سازمان (فاؤ) د کرنې د پراختیا بانک او د بیارغونې او پراختیا نړیوال بانک د ملګروملتونو اړوند هغه موسسې دي چې په دې برخه کې کار او فعالیت کوي. نړیوال بانک وروسته پاتې هېوادونوته د دې په خاطر پور ورکوي چې هغوي وکړای شي د کرنې او صنعت په چارو کې پرمختګ وکړي. د دې سره سره نن سبا په نړۍ کې اقتصادي او ټولنیزې نا برابرۍ ډېرې زیاتې دي. ځینې هېوادونه سخت د غربيې او نېستۍ سره لاس او ګرېوان دي او هر کال یو زیات شمېرخلک په دې هېوادونو کې د غربيې او لوږې له لاسه مري. ملګروملتونو د مختلفو دلایلو له کبله پدې هېوادونو کې د غربيې او لوږې له منځه وړلو په خاطر، ټینګ او غوځ ګامونه ندي پورته کړي.



ketabton.com - The Digital Library

## د اختلافونو سوله ییز حل:

د ملګروملتونو د مهمو کارونو څخه یو یې هم دعدالت دنړیوالې محکمې جوړیدل دي چې د نړیوالواختلافونو د حل کولو په خاطر جوړه شوې ده. د هغو د وسیو شمېرچې د عدالت نړیوالې محکمې ته راجع کېږي ورځ په ورځ زیاتېږي.

## افغانستان او ملګري ملتونه:

په دې پوهېږو چې زموږ هېواد د ملګرو ملتونو د غړو هېوادونو څخه، یو هېواد دی. ملګري ملتونه په فعاله توګه په افغانستان کې بوخت دي. دغه سا زمان په مختلفو برخو لکه: بې وسلې کول، د مخدره توکو کنترول،تولید او قاچاق مخنیوي، بیارغونه او په ټول هېواد کې د امنیت ساتلو په چارو کې د افغانستان د خلکو سره مرسته کوي.

په دې هکله، د امنیت شورا نړیوالو سوله ساتو ځواکونو ( ISAF) ته اجازه ورکړه چې د کابل څخه بهر هم فعالیت وکړي.

د ملګروملتونو دزده کړې، علمي او فرهنګي سازمان (یونسکو) هڅه کوي چې د فرهنګي میراث په ساتلو کې د افغانانو سره ملتیا وکړي. د ملګروملتونو د ماشومانوصندوق (یونیسف) د ځینو خطر ناکو او د مخنیوي وړ ناروغیو لکه تیتانوس، پولیو او شري په وړاندې د ښځو او ماشومانو د واکسین په برخه کې مرسته کوي.

### د لوست تکرار:

- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------

### پوښتنې:

۱. آیا ملګري ملتونه په نړۍ کې د جګړې په مخنیوي کې بریالي شوي دي؟

۲. ملګري ملتونه د کومو موسسو پواسطه په نړۍ کې د غریبۍ د له منځه وړلو لپاره هڅه او کوښښ کوي؟

۳. د ملګرو ملتونو کومې برخې د افغانستان د بیا رغونې په چارو کې زموږ د خلکو سره مرسته کوي؟

### فعالیت:

له لسو کسانو سره مصاحبې وکړئ او له هغو څخه وغواړئ چې لاندې پوښتنې ته ځواب ورکړي:

ملګري ملتونه په افغانستان کې د سولې او امنیت په راوستو کې څومره بریالی دي؟

ډېر ⬭ منځنی ⬭ لږ ⬭

ځوابونه په نښه کړئ. په پای کې یې جمع کړئ او ویې ګورئ چې څوتنو ډېر په نښه کړي دي. څو تنو منځنی په نښه کړي دي او څوتنو لږ په نښه کړي دي. پایله یې په ټولګي کې ولولئ.



ketabton.com - The Digital Library

## دڅپرکي لنډيز

ملگري ملتونه د دويمې نړيوالې جگړې څخه وروسته دنړيوالو غوښتنو په ځواب کې چې د سولې د ټينگښت او امنيت د رامنځته کيدو څخه عبارت وه، جوړشول، ملگري ملتونه اصلي ارکان لري چې د عمومي ټولنې، د امنيت شورا، اقتصادي- اجتماعي شورا، د عدالت نړيواله محکمه او دارالانشا څخه عبارت دي.

يونيسف او د کډوالو په چارو کې د ملگروملتونو عالي کميشنري د دې سازمان د فرعي ارکانو له جملې څخه دي. يونسکو په ملگروملتونو پورې تړلی سازمان دی. د ملگروملتونو اړوند سازمانونه په درې کاري ډلو وېشل کېږي.

۱. د کرنې د پراختيا، صنعت، پولي، بانکي (اقتصادي) موسسې.

۲. خدماتي او ارتباطي موسسې.

۳. تولنيزي، فرهنگي او روغتيايي موسسې.

د ملگروملتونو کارنامه په لاندې دريو حوزو کې څېړل کېږي:

۱- د جنگ څخه مخنيوي ۲- د ژوندانه د سطحې لوړيدل او د غريبۍ کمول، ۳- د هېوادونو تر منځ په عادلانه توگه د اختلافونو حل کول.

د دې حالاتو په هر يوه کې ملگروملتونو برياليتوبونه او ناکامۍ ليدلي دي. د ملگروملتونو مهم ناکامي د فلسطين ناکامي ده. ځکه ويي نکړای شول چې هغوی ته د دوی حقونه بيرته ورپه برخه کړي. ملگري ملتونه په افغانستان کې پراخ او فعال شتون (حضور) لري.



ketabton.com - The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د بشر حقونه

**په دې څپرکي کې لاندې درسونه لولو.**

- د بشر د حقونو سره آشنا کیدل.
- په افغانستان کې د بشر حقونه.

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## د څپرکي موخې

**د دې څپرکي په ختمېدو سره زده کوونکي باید وکولی شي چې:**

- د بشر حقونه تعریف کړی شي.
- د بشر له حقونو څخه ځینې مهم یې وپېژني.
- د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې د اهمیت او ټولنیزې محتوا سره أشنا شي.
- د اسلام سپېڅلي دین سره د بشر د حقونوپه اړیکو پوه شي.
- زموږ په اساسي قانون کې د بشر د حقونو ځای وپېژني؟
- د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون سره أشنا شي.

ketabton.com - The Digital Library



# د بشر د حقونو سره آشنا کيدل.





## خبرې پرې وکړئ:

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ:
- د بشر د حقونو د معنا سره څومره بلدتيا لرئ؟
- آيا کولی شئ چې د ځينو نومونه واخلئ؟

تاسې هرو مرو (د بشردحقونو) اصطلاح د مختلفو کسانو او يا هم له رسنيو څخه اوريدلې ده. په دې درس کې د بشر د حقونو د مفهوم سره زياته آشنايي پيداکوئ.

## د بشر حقونه څه شی دي؟

د بشر حقونه د( بشر) او (حقونو) د دوو کلمولو يو ځای کيدو څخه جوړشويدي. حقونه د حق جمع ده او ( حق) د طلب او استحقاق په معنا دی. بشر د هغه ټولو انسانانو په معنا دی کوم چې د ځمکې پر مخ ژوند کوي. د بشر حقونه د يو شمېر هغو حقونو او ارزښتونو څخه عبارت دي چې هر انسان بايد پخپل ژوندانه کې له هغو څخه برخمن وي لکه: د آزادی حق. د ژوندانه حق، د برابرۍ او عدالت حق. ټول انسانان بايد له دغو حقونو څخه برخمن وي او د نژادي، جنسيتي، فرهنگي، ديني او جغرافيايي توپيرونوپه خاطر، بايد له هغو څخه بې برخې نه شي. د اسلام په سپيڅلي دين کې، انسان د ځانگړي درناوي څخه برخمن دی او زيات حقونه لري

ketabton.com - The Digital Library

چې هېڅوک د دې حق نه لري چې په خپل سر هغه له ده څخه واخلي.

کله کله زورورکسان د خپل جسمي او ټولنيز زور څخه په ګټه اخيستنې سره، د نورو خلکو انساني حقونه تر پښو لاندې کوي. د تاريخ په اوږدو کې دغه راز ډېرې پېښې د دې لامل شوي چې پوهان او د ټولنيزې روغې جوړې غوښتونکي د هغه لپاره د حل لاره ولټوي.

د انساني ارزښتونو تبليغول او رواجول د انساني ضد عادتونو او بې عدالتيو پر خلاف مبارزه کول ، په دې لاره کې د سوله غوښتونکو د هڅو څخه عبارت دي. د دې هڅو په رڼا کې د بشر د حقونوتر پښو لاندې کول کم شول. د بشر د حقونو موخه د ټولنې او ولسونو دحقونو دامنيت او د ژوندانه د کچې د لوړتيا ضمانت کول دي. بشري حقونه نن ورځ د بشري ټولنو د ډېرو مهمو ارزښتونو څخه شمېرل کېږي. د بشر د حقونو په باره کې خورا مهم نړيوال سند(( د بشر د حقونو نړۍ واله اعلاميه )) ده.

## د بشر د حقونو نړيواله اعلاميه:

د بشر د حقونو نړيواله اعلاميه هغه نړيوال سند دی چې د ملګروملتونو د عمومي مجلس ( مجمع عمومي) له خوا تصويب شو. دغه اعلاميه يوه د نړيوالو خورا مهموسندونو له جملې څخه ده چې موخه يې د ټولو انسانانو لپاره د برابرو حقونو او بنسټيزو آزاديو تامينول دي. د دې حقونو تامينول کېدای شي چې د نړيوالې سولې لپاره، يو ضمانت شي. په لومړنۍ او دويمه نړيوالو جګړو کې د مليونونو انسانانو وژنه او بې کوره کيدل، په نړۍ کې د بشر د حقونو څخه ښکاره سرغړونه وه. د دا ډول سترو دردونکو پېښو د تکرار د مخنيوي په خاطر، د مختلفو هېوادونو استازو د بشر د حقونو خورا مهم اصول او ارزښتونه د بشرد حقونو په نړيواله اعلاميه کې سره را غونډ ( تدوين) کړل او د هغو د عملي کولو په هکله يې خپله ژمنه اعلان کړه. ځينې خورا مهم حقونه چې په دې اعلاميه کې راغلي دي عبارت دي له:

### ۱- د ژوند حق:

په دې معنا چې هر څوک د ژوند کولو حق لري او هېڅوک نشي کولی چې په خپل سر دغه حق له چا څخه واخلي.

### ۲- آزادي او ځانګړي امنيت:

د چاپه ځانګړي ( شخصي) آزا دۍ او امنيت باندې بايد تېری ونشي.

### ۳- د قانون په وړاندې د برابرۍ حق:

ټول خلک د قانون په وړاندې يو شان دي . قانون د ټولو په وړاندې بايد يو شان تطبيق شي.

**۴- د وګړو انساني کرامت**: انسان يو با ارزښته او د درناوی وړ موجود دی. د هغه د دغه حق بايد ټول درناوی وکړي.

**۵- د واده کولو ( ازدواج) حق**: هر څوک د دې حق لري چې پخپل اختيار او بشپړ رضايت سره واده وکړي. په واده کولو کې د ښځې او يا نارينه مجبورول منع دي.

**۶- د شتمنۍ ( مالکيت ) حق**: يعنې دا چې د انسان شتمني او مالکيت د درناوی وړ دی او هېڅوک نشي کولی چې پخپل سر دغه حق له چا څخه په زور واخلي.

**۷- د فکر، عقيدې، بيان او مطبوعاتوآزادي:** په دې معنا چې هر څوک کولی شي چې آزاد فکر وکړي او په آزاده توګه هغه بيان او خپور کړی شي.

### ۸- ښوونې او روزنې حق:

هر څوک د دې حق لري چې د مناسبې ښوونې او روزنې څخه برخمن شي. لږ تر لږه لومړنۍ زده کړې بايد وړيا او جبري شي.هغه ارزښتونه چې د بشر د حقونو په نړۍ واله اعلاميه کې راغلي دي، نړۍ وال او ټولنيز دې خو د هغو رواجول او پراختيا د کوچنيو چاپر يالونو لکه کورنۍ، ښوونځي، او ټولنې څخه پيل کېږي او بيا د ملي او نړۍ والې ټولنې تر کچې پورې پراختيا مومي. ليکن کورنۍ او ښوونځي، هغه وخت دغه ارزښتونه رعايت کولی او يا ماشومانو او زده کوونکو ته ور انتقالولی شي، چې دوی پخپله د بشر د حقونو څخه برخمن وي.

## د لوست تکرار:

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې:

۱.د بشر حقونه تعريف کړئ.
۲.آيا اسلام د بشر حقونه په رسميت پېژني؟ څرنګه؟
۳.د بشر د حقونو موخه څه شی ده؟
٤د بشر د حقونو اعلاميه څه شی ده؟
۵د بشر د اساسي حقونو له جملې څخه چې د بشر د حقونو په نړيواله اعلاميه کې راوړل شوي دي، د درو حقونو نومونه يې واخلئ.

## فعاليت:

په څو ډلو ووېشل شئ؛ هره ډله د لويانو او ښوونکو په مرسته د لاندې مفهومونو په باره کې د قرآن کريم آيتونه پيدا کړئ او په ټولګي کې يې خپلو ملګروته ولولئ.
۱- برابري، ۲- عدالت، ۳- آزادي، ٤- د ژوند حق.



ketabton.com - The Digital Library

یوولسم لوست

# په افغانستان کې دبشر حقونه





## خبرې پرې وکړئ

انځورته وگورئ او پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

۱- ستاسې له نظره د دغه وگړو معلولیت د څه شي څرگندوی دی؟

۲-- آیا کولای شو چې د دغه ډول معلولیتونو مخنیوی وکړو؟ څه ډول؟

په تېر لوست کې د بشر د حقونو د مفهوم او د هغه د ارزښتونو سره آشنا شوئ اوس په افغانستان کې د بشر د حقونو ځای او مقام تر څېړنې لاندې نیسو.

**په افغانستان کې د بشر د حقونو شالید(تاریخچه):**

د بشر د حقونو ارزښتونه د افغانستان د خلکو لپاره چې د اسلام په آزادی ښونکي ښوونځي کې روزل شوي دي، کوم نوی شی نه دی؛ خو په منظمه توگه د بشر حقونو ته د خپلواکۍ د ترلاسه کېدونه وروسته د ۱۳۰۳ لمریز کال په لومړنی اساسی قانون کې، پاملرنه وشوه. د بېلگې په توگه د یوهېوادوال په توگه د مساوی حقونو، ځانگړي (شخصی) حقونو، د شخصیت ساتنه، د مرېي توب له منځه وړل، د مطبوعاتو آزادي، د ښوونې او روزنې حق، د قانون په وړاندې د خلکو برابر والی، په دولتي دندوکې د بوختیدو حق او د شتمنی او



ketabton.com - The Digital Library

استوګنځي مصئونيت، د لومړي ځل لپاره په دې قانون کې رسميت پيدا کړ. د ۱۳۰۹ لمريز کال په اساسي قانون کې، د پارلمان جوړيدل چې د ولسواک حکومت د ځانګړتياوو څخه شمېرل کېږي، وړاندوينه وشوه. د ۱۳۴۳ لمريز کال په اساسي قانون کې دبشر د حقونو زيات شمېر هغه مفهومونه چې د بشر دحقونو په نړيواله اعلاميه کې موجود وو، په پام کې ونيول شول. ملت ته د حاکميت د حق سپارل، د دولت له خوا د آزادۍ او انساني کرامت درناوی کول ، د تګ راتګ حق، د بيان او فکر د آزادۍ حق، د مظاهرو او غونډو کولو حق، په ټاکنوکې د برخې اخيستوحق له هغو مهمو نوښتونو څخه وو چې په دې اساسي قانون کې په رسيمت وپېژندل شول. د ۱۳۵۵ لمريز کال په اساسي قانون کې پاچاهي نظام په جمهوري نظام بدل شواو دا وړاندوينه پکې وشوه چې جمهور رئيس دې د ټولټاکنو له لارې وټاکل شي.

له دې سره، سره د بشر حقونه په افغانستان کې د تاريخ په اوږدوکې سخت تر پښولاندې کېدل او حاکمانو به پر خلکو باندې ډول،ډول ظلمونه کول. د تېرو څو لسيزو په اوږدوکې چې په ټول هېواد کې جنګ او جګړې روانې وې، د بشر دحقونو څخه تېری کول او تر پښولاندې کول، بېخي زيات شول. په دې موده کې زموږ زيات شمېر هېوادوال مړه او ژوبل شول. کوچنيان او په ځانګړي توګه نجونې له زده کړې څخه بې برخې شوې او زيات شمېر کورنۍ بهرنيو هېوادونو ته کډه، تيت اوپرک شوې.

**خبرې پرې وکړئ:**

لاندې پوښتنې په ځير سره وګورئ او په هکله يې يو له بله سره خبرې وکړئ:

۱- دهېواد په نوي اساسي قانون کې، بشري حقونو ته په کوم نظر کتل شوی دی؟

۲- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د بشر د حقونو څخه د څارنې په خاطر، کوم کارونه سرته رسولي دي؟

## زموږ په نوي نظام کې د بشر حقونه

د خلکو بيداريدل او له اوږدو جګړو څخه اوښتي زيانونه، د دې لامل شول چې خلک او په جګړو کې د ښکېلو ډلو مشران، د هغې طرحې په هکله چې د ملګروملتونو د سازمان له خوا برابره شوې وه، جوړې ته (موافقې) سره ورسېږي. دغه پرېکړه ليک (توافقنامه) د يوه کنفرانس په ترڅ کې چې د آلمان د بن په ښارکې جوړشوی وو، لاسليک شو. په دې کنفراس کې د افغانستان د مختلفو ډلو استازو د لنډمهالې اداري جوړيدل په داسې ډول چې په هغه کې د مختلفو قومونو استازي په مساوي او عادلانه ډول برخه ولري، د موجوده ستونزې او لانجې د



ketabton.com - The Digital Library

حل لپاره معقوله لاره وبلله. په نوي اساسي قانون کې د بشر د حقونو مختلفې خوا وې په پام کې نیول شوی دي. په دې ځای کې یوازې هغه دوې مادې چې د بشر په حقونو پورې اړه لري، لولو.

•په شپږمه ماده کې راغلي دي: دولت د انساني کرامت د ساتلو، بشري حقونو د ملاتړ، د ولسواکی د تحقق، د ملی وحدت تامین، د ټولو قومونوو او قبایلو تر منځ د برابرۍ او د هېواد په ټولو سیمو کې د متوازنې پراختیا او ټولنیز عدالت پر بنسټ د یوې هوسا او پر منځ تللې ټولنې په جوړولو مکلف دی.

• اوومه ماده وایي: دولت د ملګروملتونو د منشور، د دولتونو ترمنځ تړونونو، د نړیوالو تړونونوچې افغانستان د هغو سره تړاو لري او د بشری حقونو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي.

## د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون:

د بن په کنفرانس کې، په افغانستان کې د بشر د حقونو څخه د ملاتړ، څارنې او پراختیا په خاطر د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون وړاندوینه وشوه. د همغې لوزنامی پر بنسټ جمهور رئیس په ۱۳۸۱ لمریز کال په افغانستان کې د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون د جوړېدو فرمان ورکړ. د اساسي قانون په (۲۵) ماده کې هم د دغه کمیسیون په جوړېدو باندې ټینګار شوی دی. د اساسي قانون په همغې ماده کې راغلي دي: هرهغه څوک کولی شي چې بشري حقوق یې تر پښو لاندې شوي وي، دغه کمیسیون ته شکایت وکړي. کمیسیون کولی شي د خلکو د بشري حقونو د تر پښو لاندې کېدو موارد قانوني مراجعوته ولیږی او د هغو له حقونو څخه ملاتړوکړي.





ketabton.com - The Digital Library

د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون، د خلکو د پوهې د کچې د لوړيدو او د بشر د حقونو ځخه د ملاتړ په خاطر د وزارتونو او نورو دولتي سازمانونو، د مدني ټولنې د جوړښتونو او رسنيو سره نږدې اړيکې ولري. سر بېره پردې د ورکشاپونو د دايريدو، مصاحبو، د فلمونو د جوړيدو، د کتابونو، مجلو، کوچنيو فصلونو، پوسترونو او بروشورونو له لارې د بشر د حقونو د پراختيا په لاره کې هڅه کوي.

## د لوست تکرار:

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې:

١- په کوم اساسي قانون کې پاچاهي نظام په جمهوري واوښت؟
٢- درويشت کاله جګړو د افغانستان خلکو ته کوم زيانونه ورسول؟
٣- د افغانستان خلکو په هېواد کې د جګړې د ختميدو او د امنيت، سولې اوثبات د ټينګښت لپاره کومه د حل لاره د بن په کنفرانس کې معقوله وګڼله؟ ولې؟
٤- اساسي قانون د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون ته کومې دندې مطرح کوي؟
٥- د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون په کومو برخو کې فعاليت کوي؟

## فعاليت:

د هغو کارونو په باره کې چې د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون ستاسې د استوګنې په ځای کې سرته رسولي دي، يو ګزارش برابر کړئ او په ټولګي کې يې نوروته ولولئ.

## د څېرکي لنډيز

**د بشر حقوق هغه حقونه دي چې هر انسان بايد په ژوند کې له هغوی نه برخمن وي؛ لکه د ژوند کولو حق، د خپلواکۍ حق، د برابرۍ او عدالت حق. د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه په ١٩٤٨ م کال کې د ملګرو ملتو له خوا د نړۍ د خلکو لپاره د برابرو حقوقو او بنسټيزو خپلواکيو د لاس ته راوړلو په موخه رامنځ ته شوه.**

**د بشر د حقوقو مفاهيم او ارزښتونه د اسلام په مقدس دين کې وجود لري. د افغانستان په لومړني اساسي قانون کې د بشر په حقوقو باندې ټينګار شوی دی. په ورستيو لسيزو کې جګړه په هېواد کې د بشر له حقوقو نه د پراخې سرغړونې لامل وګرځېده.**

**د هېواد په نوی نظام کې، د بشر د حقوقو د ملاتړاو د بشر د حقوقو د سرغړونې د مخنيوی لپاره بندوبست وشو چې ((د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون)) جوړيدل له هغې جملې نه دي.**



ketabton.com - The Digital Library

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*